پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»

------------------------------------

## هغه غټ ستونزه کوم چي د افغانستان په مخ کي پروت دي هغه دريبنتيني مترقى قوتونونشتوالى دي چي دناپوهى ، فسا د اودخرافا توپه وړاندى مبارزه وکړي

اوس هرافغان اوبيا په ځانگړى بنى سره هغو افغانانو چي دپوهي په زيور سره سمبال دى په دى ښه پوهيږي چی افغانستان اودهغه گڼ اولسونه دخشونت ،شخړى ،بى امنى ، بى وزلي ،بى قانونى ،بى غورى ، فساد ، جهل ، خرافات ،ژبنى ،سمتى ، تنظيمى ، قومى تعصب اوډيرو ډيرو نورو ناخوالو اونابرابريو په اورکی سوځي .حاکميت ديو مافيايي اود مخدره موادو ددلالانو،قاچاقبرانو ، تویپکسالارانو ، مذهبى وروسته پا تي بى فرهنگ اودمينځنى دورى متعصب ناپوه افراطيت په لاس کی دي کوم چی خلک ددى حاکميت د استبداد اود ظلم ترسيورى لاندى تر پزي پورى رسيد لی دی اوچا ږه د هغو دغوبښو څخه تير ترهډوکو پورى رسيد لی اودهره ورځ په تيريدو سره د فقر او د ثروت واټن لاپسی زيا تيرى اوبى وزلى د نادارى په سمند ر کی لاهو ا وځان ساحل ته نشی رسولی. دغه مافياى حاکميت(دگوتو په شمار غاصب ،لوټمار ،حريص ، مذهبى متعصب ډلى ټپلى کوم چی د پيسو اود شتمنى په را تولو بخت دي) کوم چی د اجنبى اود پردى پيژندل شوى نړيوال ښا مار«امپرياليزم» تر قيادت لاندى دهغه نړيوال ځواک داهدافو (آزاد بى کنترول بازار ، ددولتی تاسيسا تو خصوصى کول ، دمخکينى شوروى دولت په مرستى سره دولتی نها دونه لکه فابريکى ، عام المنفعه تا سيسا ت له مينځه وړل ، بى قانونى او بى مسولتى ته لمن وهل ، فساد او فحشا ته رواج ورکول ، دپانگى راټولو ، د مخدره موادو د را کړی ورکړى کا راوبا رته رونق ورکول د ښځوپه وړاندى له تاوتريخوالى څخه کار اخيستل اوهمداسى نورو ناخوالوته لمن وهل )دپلی کولو دپاره په تعهد کی واک چلوى هغه بی سواد اوبى فرهنگ ډلى ټپلى دى چی حتی هغوى دغربى نړى دکار کشته چوپړ حقوقد انا نو په مټ سره جوړشوى اساسى قانون په نظر کی نه نيسى بلکه دهغه دمندرجا تواودموادو په تحقق کی له ځا نه بی پروايی ښکاره کوى يعنی دغه مذهبى متعصب حاکمان اصلاً سياسى پوه اوسواد نه لرى چی دقانون په ارزښت باندى پوه وى اويا په بل عبارت دغه بيسواد اوناپوه دولتی حاکمان دهيواد دملی انکشاف اودپرمختگ دپاره هيڅ يو ستراتيژيکی پلان اوپروگرام نه لرى چی د هغه په رنا کی خپل د ندى ترسره کړى اوهد ف ته ورسيږى ، دوى دومره وطن اوخلکو ته جفا وکړل ، چی دپنجابيانو په هدايت اولمسون سره دافغانستان سل کلن پوځ يی دړى وړی او له

مینځ ویوړل اودهغه په ځنګ کی داردو تجیهزات او جنګی وسایل (ددی مطلب د روښانه کولو د پاره د محترم لوستونکو پام د جلال آباد د جنګ هغه راپور ته یا هغه د داکټرنسرین کتونا مقالی ته را غواړم چی هغه پخپل راپور کی دافغان دجنګی تجهیزاتو لست داسی په ګوته کوی:{ یک: تانک های نوع «T-52» و«T-55» جمعاْ «۱۵۶۸» چاین – دو- (۵۰۰ BMP ) سه- ( BTR- BRMDجمعاً «828 » چهار- وسایط نقلیه «29000» - پنج- توپ های مختلف جمعاً «4880» میل شش- جت های جنګی : میک ها_میګ «21»-«25»- «سو 7» «سو27» جمعاً (220 بال) هلیکو پترهای «می 8» و«می 17» جمعاً«170»بال وهفتم – طیاره های ترا نسپورتی نوع «26- 12-32- جمعاً «60» بال» } کوم چی همدغه جنایتکاران اوغله دغه پورتنی تجهیزات د اوسپنی د قطعاتو او د ټوټو په شکل سره دلاهور په کاباړ یا نو باندی وپلورل ، اوهریو دپانګی خاوندان شول تاسی محترم لوستونکو ددوی ځخه پوښتنه باید وکړی چی دامریکا د متحده ایالاتو نظامی یرغلګرو ته چا دا مجوز ورکړ چی پر افغانستان باندی مخکی له دی چی دملګرو ملتونو د امنیت دشورا مجوز تر لاسه کړی پر افغانستان باند ی تهاجم وکړی ا یا تاسو ته دا معلومات نشته چی دامریکی دمتحده ایالاتو یوه نظا می هییت پنجشیر ته سفر وکړ او هلته ځو خا ین پیزندل شوی لوتمار و ته په بوجی بوجی دالرونه ورکړل اودهغو ځخه دا اجازه ترلاسه کړ چی پر افغانستان باندی تهاجم وکړی دافسوس ځای دلته دی چی یو د همدغو بدي اخیستونکی ځخه اوس غواړی چی د افغانستان ولسمشر شی اوپه همدی ځای کی د تاسف وړ مطلب دادی چی اولس ولی داسی ناروا اوخاینو ته وټ یا رایی ورکوی چی دهغو پر سر حاکم شی . دا به کوم عقل باوروکړی چی پرونی جنګسالاران ،پاټکیان اوننی لوتمار اوغاصب بی فرهنګ حاکما ن خلکو ته خدمت وکړی ؟ بلکه دوی دغربی نا پیژند ل شوی اوپیچلی دموکراسی او د آزادی تر سیوری لاندی اوبه خړوی اوماهیان پکی نیسی دوی که د خلکو آزادی غوښتل نو ولی ښځیو ته ونده نه ورکوی چی دنارینا و ترځنګ د هیواد په تولیدی ، ا قتصادی ، سیاسی ،فرهنګی او نورو ټولو برخو کی ونده واخلی دوی که د ښځو حقوق ته درناوی کړای وای نو ولی خپلو ښځو ته اجازه نه ورکوی چی دافغانستان په ملی او رسمی ورځو کی دنورو خلکو سره په نوموړی محافلو کی ظاهر شی ، هوکی دوی هغه متعصب ډ لی ټپلی دی چی پخپل هنداره کی یواځی خیل کرغیرن مخ ګوری او د نړی او بیا ددی یوویشتم پیړی دلاسته راوړونو ځخه محروم اولیری دی ،اوس هرچاته معلو شو چی دغه حاکم ډلی ټپلی په هیڅ بڼی سره نشی کولای اویا دهغو وسه نه رسیږی چی په افغانستان کی دغه موجوده ستونزی کوم چی دهغو دلاس حاصل دی له مینځه ویسی او دافغانستان خلکو ته نیکمرغی راوړی نو دهمدی اصل په نظر کی نیولو سره دا ا یجابوی چی با ید په افغانستان کی یونوی یوه ، مترقی ، باسواد او با فرهنګ خلک اوبیا په ځانګړی بڼی

سره هغه ځوانان چې د علم او دنني عصري تکنالوژي او پوهي با ندی سمبا ل وی د هیواد دسمسورولو دپاره ملا وتړی او په ډیر مسا لمت امیز بنی سره دغه موجوده حا کم ډلي ټپلي دخلکود مخه څخه لیری کړی اودهیواد دآبادی اود اعماردپاره ټاکونکی قد مونه اوچت کړی . اما کله ناکله ماته داسی سوالونه را پیداکیږی چی په یوه طبقاتی ټولنه کی چي په علمی بنی سره ددو متخاصمو ډولو تر مینځ په ښکاره اویا په پټه سره جګړه روان وی اودهری ورځی په تیریدو سره متخاصم ډلی دخپل قدرت د پیاوړی کیدو دپاره له هیڅ هڅی څخه نه سپموی نو هغه حلقی کوم چی باید ددغه حاکم بیرته پاتی حلقومخه ونیسی چیری دی او ولی سر نه را پورته کوي اویا ولی خپل مرام او خپل نژدی اولیری اهداف خلکو ته نه وړاندی کوي ؟ اویا داچې ځنی ځوانان په ځنو ناروا او نا سم لوبو باندی ککړ شوی چی هغوی ته هم لکه دحاکمو حلقو په شان خلک بی اهمیت ښکاری اویا داچي د همدی بی فرهنګو حاکمو ډلو ټپلو تر ولکی لاندی ساه نشی ایستلی . په هرصورت یوه ټولنه هغه وخت د نیکمرغی خواته کولی شی اوچت قد مونه پورته کړی چي په هغه کی یوه مترقی او خوځنده ځواک کوم چی په نوی اوعصری اندیښنو سمبال وی دیو متحد او ټینګ سازمان اودیو روښانه مرام اود یو ټاکلی هد ف ته درسیدو د پاره دی باید هغه همنظران اوهمفکران راجلب اوپه سازمان کی سره رامتحد کړی کوم چی په یو آواز اوواحد نظر سره دموجوده ستونزو دحل په لاره کی ستر ګامونه سره اوچت کړی نو ددی پورتنیو یادونو سره سره یو ځل بیای لازم بولم چی ددی وطن آبا دی او سمسورتیا بی له یو پروطن با ندی د مینو ځوانا نوله هلو ځلو څخه بل هیڅ امکان نه ترسترګو کیږی .

## په درناوی